ماته په اسلام کې داسې يوه وينا وښايه چې له تا پرته له بل چا څخه پوښتنه ونکړم، هغه وفرمايل: ووايه چې په الله مې ايمان راوړی، بيا پرې ټينګ پاتې شه

له سفيان بن عبد الله الثقفى رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: ما وويل: اې د الله جل جلاله رسوله، ماته په اسلام کې داسې يوه وينا وښايه چې له تا پرته له بل چا څخه پوښتنه ونکړم، هغه وفرمايل: ووايه چې په الله مې ايمان راوړی، بيا پرې ټينګ پاتې شه».

[صحيح دى] [مسلم او أحمد روايت کړى دى]

صحابي سفيان بن عبدالله رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې هغه ته يوه داسې وينا وښيي چې د اسلام په جامع مفهوم مشتمله وي تر څو پرې عمل وکړي او له بل چا يې په اړه پوښتنه ونکړي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ووايه چې: الله مې يو ګڼلی او ايمان مې راوړی چې هغه مې خالق او حق معبود دى او هيڅ شريک نه لري. بيا د فرايضو په ادا کولو سره د الله جل جلاله پيرو ته غاړه ږدي او محارم يې پريږدي او همداسې دوام ورکوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65018

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee